محمد معصوم هوتک

۱۵ جون ۲۰۱۵

دالیکنه مانهه کاله پخوالیکلې وه. تېره اوونۍ په کندهارپوهنتون کې دپاچاخان علمي مرکز مسئولینودډاکټرعبدالرازق پالوال د۷۵ کالیزې دنمانځلوغونډې ته مقاله راځخه وغوښتله. دنوي لیکنې بیچ مې په ځان کې ونه لیداوپه دغه پخوانۍ لیکنه مې غاړه وروایستله. په دوهم وارخپرېدلوکې مې مطلب دادئ چې ګونډې نورلوستونکې هم دلوستلو وړ څه پکښې ومومي.

معیاري ,,پښتو,, ته یوه کتنه

" معیاري پښتو" د ښاغلي ډاکټرعبدالرازق پالوال لیکنه ده چې د۱۳۸٤ هـ ش کال دتلې په میاشت کې دشال یونایټیدپریس مطبعې د یوزرټوکوپه تېراژ چاپ کړي ده . کتاب له فهرست پرته ٤٤٤مخه دئ چې په دې کې ئې متن ٤۱۰مخه اوپاته ۳٤ مخه ئې لومړنۍ ، اوسترۍ څېړنه اوبابېړی پای څېړنه ، اخستیځونه(ماخذونه) اوالبوشاکي دي . دکتاب چاري ښاغلي مطیع الله روهیال سرته رسولي دي اوکمپیوټري لیکنه ئې پخپله مولف کړې ده . دکتاب پروقایه باندي ئې دژبې هر اړخیز تعریف اوورپسې داسي سپارښتنه کښلې ده :

لومړی خپله ژبه سمه زده کئ !

بیاپه وړغېږئ اوپرووړغېږئ !

بیالیکنه په وکئ اولیکنه پروکئ !

دکتاب فرعي نوم " دپخوانۍ ختیځي پښتوله نوني څخه واوسنۍ ختیځي پښتوته پرتلیزه کتنه " دئ (۱) .

ډاکټرپالوال دخپل دغه کتاب کمپیوټري چاري پخپله سرته رسولي دي اوداسي ښکاري چې په لیکلوکي ئې دکمپیوټرله عربي پروګرام څخه کاراخیستی دئ . ده اریان د٤٤٤مخونوپښتوتوري په لاس ورسم کړي دي اوخدای خبرچې څونه به ئې ستخ کړی وي .

ډاکټرعبدالرازق پالوال دکابل پوهنتون دادبیاتوپوهنځي د انترو پالوجۍ استادواوپه دغه څانګه کي ئې دامریکاپه متحده ایالاتوکي ډاکټري اخیستې ده . دی په ژبپوهنه کي دپراخي مطالعي څښتن دئ اوله پوهنځي څخه ترفارغېدلووروسته ئې له ښاغلو مجاوراحمد زیار صاحب اوبایزیداڅک سره یوځای په هغه پروژه کي فعاله برخه اخیستې وه چې دیونسکوله خوادافغانستان د ژبوداطلس جوړولوپه

خاطرجوړه سوې وه . اروابښادپوهاند ډاکټر محمدرحیم الهام لیکي چې " دې ډلې دافغانستان درواوباندوته مخه وکړه او د ګرږدوپوهني د څېړندودله علمي اصولوسره سم په ډېرو ناخوالو شرایطو کي د آریاني ژبود ګرږدودونوپه ثبتولولګیاشول اودژبني ګرږدودیزاطلس دتدوین له پاره ئې ښایسته ښه موادثبت کړل . "(۲الف) .

پوهاندوکتورزیارصاحب په دغه ټیم کي دپالوال صاحب رول ته ډېر اهمیت ورکوي اوخپل " تکړه ملګری" ئې بولي (۲ب) . دغه رازپه ژبپو هنه کي هم دپالوال استعداد مني اووایي چې ترانترو پالو جۍ و "ژبپوهني ته ډېرتیارو " اوداچې هغه (پالوال) دژبپوهني لار پرېښوده او انترو پا لوجي اواتنولوجي ته ئې مخه کړه ، افسوس کوي (۳) .

علامه رشاد(رح) لیکلي دي چې دپښتو- جاپاني قاموس لیکوال اود جاپان دشیمونوسکي نومي بندرپه پوهنتون کي استادښاغلی نواتا تېڅوسن وایي " زمادپښتوژبي استادښاغلی عبدالرازق پالوال دی . " (٤) .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکټرپالوال د (پښتومصدر) په نامه يونوښتګراثر کښلئ دئ چي په ۱۳۵۰ ش کال دوړمې مجلې پرځای دژبواوادبياتوپوهنځي له خواچاپ سوی دئ . ده ددغه کتاب ترليکلووړاندي ئې يوازي پرژبه باندي ديارلس درنې تحقيقي مقالې کښلي وې . پرهيوادباندي دثوردسرې فاجعې تر نازلېدلووروسته ، ډاکټرپالوال جرمني ته مهاجرسو اود مهاجرت په شپوکي ئې پرپښتوژبه باندي يولړليکني په ډېوه مجله خپرې سوي دي .دی په ۱۹۹۷ع کال بيرته وطن ته ستون سو او اوس په کندهارکي اوسي .

ډاکټرپالوال د (معياري پښتو)کتاب دکښلوانګېزه داسي بيانوي :

" کله چي به مي ورځپاڼه ، مجله ياکتاب لووست ، غلطيؤبه ئې زهيرولم . ياکله چي به مي درادیوګانؤ خپروني اورېدلي ، نودويندويانؤ غلطيؤ به ئې ځورولم . لکه پخوااوس هم کله چي دپښتو په اورېدني اولوستني بوخت سم ، پېښه بياهم هغسي وي . په راديو او کتاب ياورځپاڼه کښي هرڅوک خپله ځايي وګړيزه لهجه وايي ياليکي ، ياله ځانه څخه نورڅه وايي، اوهغه هم سم اوصحيح بولي . دغه کسان نه په ژبپوهنه پوهېږي اونه ئې دپښتوګرامرزده کړئ دئ ،البته ځينوبه لوستلئ وي . له ليکني اوږغېدني څخه ئې داسي څرګندېږي لکه دځينوکسانوچي دي پښتو مورنۍ ژبه لاهم نه وي ، يادي په فارسي محيط کښي لؤی سوي وي . دوی چي هرڅه وويل ياوليکل ، نورمشران ئې ړوندتقليدکوي اوددوی کشران اؤمه ځوانان بياد دواړؤ ړوندتقليدکوي . نوهغه تقليدسالاران اودغه ئې تابعين دي .

ددغسي کسانودفهم له پاره مي داپرځان لازمه وبلله چي ترممکنه حده پوري پرپښتوباندي يوه مقايسوي ليکنه وکم ، اودغه ليکنه بايد داصولوپراساس باندي وي ... که نه ګانه دفهم خاوندان زماله ليکني سره لږډېرمخالفت ولري ، له هغؤی څخه زماهيله داده چي خپل انتقاد، اعتراض ، اونظربه زمااوهم نورؤ لوستؤنکؤ دسمون په نيامت چيري چاپ کي اويوه کاپي ئې وماته هم راولېږي يالږترلږه ئې څرک په لاس راکي، ياخپل نظرپه ليکلي توګه راورسوي ، زه به ئې مننه کوم . " (٥)

ډاکټرپالوال دکتاب په سرکي دژبي پرپيدايښت ، منشاء اووده باندي ږغېدلی دئ اوله پښتنوسره ئې دسامي نژاددااشخاصودګډون مسئله منلې ده خوپه دې لړکي ئې دپښتوژبي ساميت نه دئ منلئ او دا نظريه ئې ،چي پښتوسامي ژبه ده ، ردکړې ده (٤١مخ) .

دکتاب ليکدودله اوسني مروج ليکدودسره توپيرلري .په لومړي وار لوستلوکي به ښايي زماپه شان هرلوستونکی ستونزي ور سره ولري .

دپښتوژبي دليکدوددسمولواودمعياري ليکني له پاره هڅي که په معاصره زمانه کي څېړو، ترټولووړاندي داروانښادعلامه حبيبي هڅي دچامخ ته درېږي . علامه مرحوم دطلوع افغان اخباردچلولوپروخت يو لړاکاډيميکي هڅي پيل کړې چي په هغوکي ئې داملايي يووالي له پاره کارهم شامل و. په طلوع افغان کي په دغوراپيل سووهڅوکي له علامه حبيبي سره اروانښادمولاناقيام الدين خادم ، اروانښادحاجي ولي محمدمخلص ، اروانښادمحمدګل نوري اواروانښادعبداللطيف هوتک هم ملګري ول . ددې هڅوپه تعقيب دکابل پښتوټولني هم دژبي دليکدوداومعيارپه باب هلي ځلي کړي دي اودلروبرپښتنو ليکوالو ګډتلاښ ته ئې زمينه برابره کړې ده . دپښتوټولني هڅي که څه هم ناکافي بلل سوي دي ، خوپخپل وخت کي دستايني وړدي . ورپسې دکابل پوهنتون دادبياتوپوهنځي دهغوځوانواستادانوله خوا، چي په خارج کي ئې نوي ژبني اکاډميک تحصيلات سرته رسولي وه د پښتوژبي د کره کېدني خوځښت راپيل سوچي په هغوکي اروانښاد پوهاند ډاکټر محمد رحيم الهام،اروانښادحبيب الله تږی، اروانښاد پوهندوی نور احمدشاکر، پوهاندوکتورمجاوراحمد زيار، ډاکټر عبدالرازق پالوال ،استاد بايزيد اڅک اونورو برخه اخيستې وه . په دوی کي پوهاند دوکتور زيار صاحب هم د کار دحجم په لحاظ اوهم دې چاري ته دخپل ټول ژونددوقف کولوله امله تر نوروزيات کارکړی دئ . پوهاند زيار صاحب ته خپلوګوندي اوسياسي اړيکو دومره پراخه زمينه برابره کړه چي تر ها نوروااستادانوډېروړاندي ولاړسي ځکه هغوی په سياسي لحاظ مغضوب واقع سوي وه ، ځيني له هيواده وتلوته مجبورسوي وه او هغوی چي پاته وه هم چامخي ته نه پرېښوول . له همدې امله دژبي دکره کولوکارته يوازي ډاکټرصاحب زياراوړه ورکړه . وروسته څرګنده سوه ، چي ددې خوځښت په پيل کي چي کومو کسانوله دې بهېرسره لاس يوکړی و ، دهغي لاري په پاللوکي ستونزي وموندلې ، چي اوس دمعياري ليکنۍ پښتوپه نامه پرخلکو تحميل کېږي .پښتانه ليکوال ددې بهېرله ځينواړخونوسره بشپړتوافق نه لري

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اودبې مېروزه نوو لغتونودجوړولواورواجولوله اوله لهجوڅخه د لغاتودنه اخيستلوله اړخ سره ئې زه هم جوړنه يم اوببرېږم چي دغه رازپښتوګاني چي اوس ئې د رواجولوهڅې رواني دي ، خداى مه کړه له پښتنوسره دخپلې ژبې د پردئ کولوپرلوریوه هڅه نه سي . له بده مرغه دپردي کېدلودغه عمليه دتکوين په حال کي ده .

دډاکټرپالوال دغه نوی کتاب (معياري پښتو) دژبي دکره کولوپه برخه کي يوه نوې هڅه ده چي په ډېروبرخوکي ئې سپارښتني دپاملرني وړدي .

استادپالوال پرژبه باندي دږغېدلوحق هرچاته ورکوي اوپه هغوکي بيادلغت جوړولواوپه ژبه کي دنوروبدلونونوراوستلوواک هغه چاته ورکوي چي صلاحيت ئې لري اوصلاحيت بياپه لايسنس درلودلو پوري نه تړي بلکي په استعدادپوري ئې تړي . دده په نظرپرژبه باندي د ږغېدلوحق دهرمستعدويونکي طبيعي حق دئ . دی ليکي :

" صلاحيت دچلندي ايکئ په توګه دوه مخه لري . يومخ ئې وګړيزيا عاميانه دئ . بل مخ ئې مسلکي اوماهرانه دئ . په دغؤ دواړؤ خواؤ کښي ئې دصلاحيت خاوندهغه څوک دئ چي استعدادئې لري . دغه استعدادهرڅوک نه لري . په وګړوکښي هم هره مړه ياژوندئ ژبه هغه چا جوړه کړې ده چي دؤی ئې استعدادلارء . مستعدشپانه دشپونتياپه خواکښي لغاتؤنه جوړ کړي دي ؛ مستعدکرهڼګردکرهڼي دکاراو آلاتو په اړوندلغاتؤنه جوړکړي دي ؛ مستعد ورهڼګر د ورهڼي (صنعت) په چارؤ کښي دوسايلؤ اواستعمال په اړوندلغاتؤنه جوړکړي دي ... ٌ (٦) . خودی دلته يوه خوراتريخ واقعيت ته اشاره کوي اوداستادنوميالي له خولې ليکي چي ً که ژبه خرابوئ نوئې (دژبي) وډاکټرانوته وروسپارئ ... " او ورپسې زياتوي " ... يوسړی ،هرڅوک چي به وي ، دادځان وظيفه نه وګرځوي چي بل کار څه مه کوه ، بل لادشپې اوورځي لغاتونه جوړوه .... " (٧) . دی وايي چي " دوګړؤژبه د پوهانؤترژبې ډېره منظمه اوله اصولوسره سمه وي . وګړي ، که دژبي دپوهانؤ تقليدنه وکي ، له دوی څخه خپله ژبه نه خوارېږي . داځکه چي وګړي دژبي په وده او پراختيا کښي له طبيعي اجتماعي انتخاب څخه کاراخلي ... "(٨) . ډاکټرپالوال سره له دې چي په ژبه کي دنوولغاتو جوړول لازم ګڼي اووايي چي ژبه همېشه په تطورکي وي او که دچاخوښه وي که نه ، زاړه لغتونه مري او نوي ئې ځای نيسي ، خو پر ټنګ ئې ټينګارکوي چي " ... ژبه بايدله خپلؤخلګؤ څخه پرءدئ نه کړه سي ، بل لادنورؤ له پاره هم خوندوره ، جذابه اوعام فهمه کړه سي ... " (٩) . دنوولغاتود جوړولوپه برخه کي سپارښتنه کوي چي " ... لؤمړی لغات دګرامري او ادبي اړخؤنؤله پلوه وڅېړل سي بيادي ئې دکاروءني اواستعمال اجازه ورکړه سي . خودغه استعمال به ئې هم اختياري وي ، نه جبري . " (١٠) . دی ددغه کارله پاره ديوې ځانګړي مجلې وړانديزکوي چي په خاص ډول ژبني مسايل وڅېړي . ډاکټرپالوال پخپله هم دلغاتوپه جوړولوکي برخه اخلي خوخپلي جوړوني قرآني احکام نه بولي اوحاضردئ چي دنورو نظرونه ولولي . دی په پښتوکي له پرديودخيلولغتوسره ډېرسالم چلند کوي او داځکه چي دنوروژبواغېزه پرخپله ژبه باندي اودخپلي دا پر نورو باندي يوه طبيعي پېښه ګڼي .دی ليکي چي " که دبلي ژبي سم او اجوت لغت وي ، اوهغه په پښتوکښي عموميت مؤندلی وي لکه غم ، وخت ، کيميا، بيالوجي، فزيک ، تليفون ، تلويزيون اونورداسي، نو هرومرونې نه ده چي يادغسي لغاتونه ترجمه کړل سي ، يانورورته جوړ کړل سي . ځکه چي په ژبي کښي ئې ځای نيولئ او خلګ په پوهېږي .... ولي په هره توګه ،په لاسي توګه سره وهرڅه ته لغت جوړول وژبي ته ګټورکارنه دئ . که به ئې زء کوم غلط کارکوم ، که به ئې نورکوي ، ښه کارنه کوي. ډېرښايي چي دغسي نوي لغاتؤنه دي بل کله دژبي په تاوان تمام سي . " (١١) .

دی يوې بلې پېښي هک پک کړی دئ اوهغه " دژبي بې سرؤپايه ، بې هدفه لارورکئ تحول دئ چي لاسي عملي کيږي . زاړه لغاتونه پرېښوول کيږي ، او نوي جوړکړي يامفغن لغاتؤنه ، که به څه هم تروربښنؤلغاتوبدخونده ، پېخ ، اوکم مناسبته وي، داصيلو لغاتؤنؤ ځای نيسي .دغه کارددې له پاره کيږي څولهجوي اړتياوي ئې په پوره کړي وي ، نه عمومي ژبنی . " (١٢) .

تردې وروسته ډاکټرصاحب دخپلې خبري داثبات له پاره خورازيات مثالونه راوړي چي زه ئې دخپلې ليکني داوږدوالي له بېري نه رااخلم .

داکټرصاحب پالوال دپښتوژبي لهجې ، چي دی ئې (ژبځانګي) بولي ، پنځه بللي دي اودهري يوې دويونکوځای ځايګی او ځانګړ تياوي ئې بيان کړي دي . ددوی دانوی تيسيس يوه اکاډميکه څېړنه ده چي په پوره

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

صلاحیت اوکفایت ئې ښېړلې ده . دپښتوژبې د لهجوښېړنه او ګروېړنه ډېره اختصاصي اومسلکي پوهنه اوپرڅنګ ئې ساحوي ریسرچ غواړي اوزه په داسې موقعیت کې نه یم چې دهغه په باب دې نظرڅرګندکړم خودژبې له ماهرانوڅخه غواړم چې دډاکټر پالوال پردغه وېش باندې خپل نظریات په سړه سینه څرګندکړي .

ډاکټرپالوال په پښتولهجوکې په شین باندې دسین داوښتلوجریان په علمي ډول ښېړلی دئ(۳۰ مخ)اوپه دې اوښتون کې ئې د کوشانیانو اغېزه دخیله بللې ده . له دې موضوع سره دارتباط له مخې بایدووایم چې زموږځیني لیکوال دپښتوژبې معیاریت په سین اوشین کې لټوي . که چاد‌پښتومحوري فعلونه په شین وکښل ګویا لیکنه ئې پر معیار برابره سوه نورکه ئې هرڅومره اصولي ورانۍ پېښې کړې وي ، ری نه پکښې وهي . دپښتوپه یوه ویب پاڼه کې ئې زه هم ښایي دهمدې سین اوشین په خاطرپه ډېره مودبانه توګه کړلی یم اولیکلي ئې دي چې زه (هوتک) معیاریت " په لغته وهم ".

پالوال صاحب پرپښتوباندې دنوروژبواغېزې اودغه رازپرنورو ژبو باندې دپښتواغېزه مني اودایوه طبیعي پېښه بولي چې ځانته تاریخي اوجغرافیایي عوامل لري . ده په دې برخه کې په پښتوکې مغولي لغات ، عربي مفغنات ، فارسي مفغنات راوړي اوښه مغزنه ښېړنه ئې پرکړې ده اوپه دې ترڅ کې ئې پرلویدیځه پښتو(لومړۍ ژبڅانګه) باندې د فارسي اغېز، پرختیځه پښتو(پنځمه ژبڅانګه)باندې داردو اغېز او دغه رازپرپښتوباندې دانګلیسي اغېزبیان کړی دئ . دغه رازپه دې لړکې پرانګلیسي مفغناتواوله انګلیسي سره دپښتوپرمشترکو لغاتو باندې ښه په تفصیل سره رڼغېدلی دئ اوپه هره برخه کې ئې دچاخبره د خوند و شخوندخبري کړې دي (۱۳) .

ډاکټرپالوال دخوراډېرواساسي مسئلوترڅنګ پردې خبره ټینګار کړی دئ چې لیکوال بایدلغاتونه تحریف نه کړي اویولغت دبل پرځای استعمال نه کړي . ده په دې برخه کې د(اغزی ـــ ځوز) ، (ټګي ـــ دروهه)،(سره ـــ ځله)،(درخته ـــ ونه) ، (دونده ـــ دومره) ، (شرمښ ـــ لېو)،(کرنه ـــ کرهڼۀ)،(لرګي ـــ بوټي)،(لښتی ـــ واله) ،(لیدنه ـــ کتنه) ، (الونیاـــ نیهام ، ورک ، پټ)لغتونه سره شنلي دي اودهغوپه باب ئې په زړه پوري نوي خبري کړې دي چې زه درانه لوستونکي دهغو لوستلو ته وربولم . ددغولغتونوتوپیرنه کول رشتیاهم ګډوډې پېښه کړې ده چې زه به ئې له دې ټولوڅخه یومثال راواخلم .

پالوال صاحب لیکي چې درخته او ونه سیمه ییزتوپیرلري . ونه په غرواودښتوکې په طبیعي توګه ، بې له دې چې انسان دې لاسي خواري
په کښلې وي ، شنې کېږي اودرخته بالعموم په باغوکې وي دانسان په لاس اینوول سوي وي ، پالنه ، روزنه اوساتنه ئې هم دانسان په لاس کې وي (۱٦۸ او۲۷۹مخونه) .

داڅېړنه نوې ده اورشتیاهم زما(هوتک) دخپلې مشاهدې له مخې د کندهارپه لهجه کې ددرختي له عام استعمال سره په کلیوالي محیط کې دشنودرختي ته د(شنوونه) وایي . شنې یورازکلکي ، غوړي دانې دي چې دوچې مېوې په توګه ئې خورک عام دئ . ددغي مېوې ونه ، چې په غروکې په طبیعي توګه شنې سوي وي ،(د شنوونه) نومېږي . (شنې په غلانه چیچل کېږي) متل په پښتنو کې باب متل دئ .

دپښتوژبې درخته ، لکه ځیني کسان چې فکرکوي ، دپارسي ژبې له (درخت) سره یوشان لغت نه دئ . البته دمعناله مخې پریوه مفهوم باندې دلالت کوي خوددواړولغتو وینګ په حرکاتوکې بنیادي توپیر سره لري . دپښتودرخته دجوړښت له مخې دinitial cluster، چې دوکتورزیار صاحب ئې " پیل بېواکوړی"بولي (۱٤) ، په کتارکي راځي په دې معناچي دلغت په سرکې دوه کانسونینټونه څنګ پرڅنګ پرله پسې راغلي دي . دغه جوړښت ته عربي ګرامریان " ابتداء بالساکن" وایي اومحال ئې بولي . یعني په عربي ژبه کې دانیشیل کلسټر جوړښت نسته . وایي چې زړې پارسۍ دغه رازجوړښتونه درلودل خو دغه خاصیت ئې په وروسته کې له لاسه ورکړی دئ . هندواروپایي ژبې دغه ځانګړتیالري اوعلامه رشادچي دمیاشرف دپښتوعروض پر رساله باندې کره کتنه کښلې ده (وږمه مجله ۱۳٤٦ش) هورې ئې د خپلې پراخي مطالعې په برکت په پنځه ویشتوژبوکې دانیشیل کلسټر مثالونه ورکړي دي (۱۵) .نتیجه داچي (درخته) دپښتوخپله کلمه ده . په پارسي پوري به ئې تړل دژبې په اصولوباندې دناپوهۍله اسیته وي .

ډاکټرپالوال دسلګون ، زرګون نوټ پرځای سلی ، زری غوره بولي او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دزرګونوپرځای (زرو) معیاري ګڼي . ما(هوتک) دغزل دباباحمزه شینواري په هغه لیکنه کي چي دچکنورودملاصاحب په باب ئې د (سترمجاهد) په نامه کښلي ده، دشلګونوپرځای د(شلونو) کلمه لوستلې ده . حمزه باباپه لواړګي کي دچکنورودملاصاحب دیوه خلیفه
صاحبزاده محمدعارف (مشهورپه کاکا) په خانقاه کي دجوړي سوي مدرسې په باب کښلي دي چي په دې خانقاه کي " ... دلواړګي په شلونو هلکان هلته درس اخلي . " (١٦) .
ډاکټرپالوال د(په) او(پر) داستعمال مواردتول مستند اوپه تول تللي بیان کړي دي (٢٠ ، ٢١٩ ــ ٢٢١مخونه)
.
په پخوانیومتونوکي ئې دکتابونوله لاسوهني څخه ډېرسرټکولی دئ اوپه ډېروقوي دلایلوئې دغه لاس وهنه رابرسېره کړې اوثابته کړې ئې ده چي دغو لاسوهنودشاعرهغه لهجه وراړولې ده چي ده پکښې قلم چلولی دئ . ده په مستندمنطق سره ښوولې ده چي دپښتو د کلاسیکو شاعرانوخپل ثبت داسي نه و،لکه داواوس چي موږددوی په چاپ سوو دېوانوکي لرو.
د" معیاري پښتو " کتاب مایوواروواېه اوترلوستلووروسته راته څرګنده سوه چي دوه درې واره ویل هم راڅخه غواړي . ددې یوه وار ویلو په نتیجه مي داڅوخبري په زړه کي راوګرځېدلې :
ـــ دډاکټرپالوال لیکدود په ځینوبرخوکي له داوسني مروج لیکدود سره توپیرلري . مائې په لوستلوکي مشکلات ولیدل او تر څو مخو وروسته یوڅه ورسره بلدسوم . زماپه خیال که ئې دلیکدودله پاره دکتاب په سرکي یوه لارښوونکې پاڼه ورزیاته کړې وای نوبه ئې له لوستونکوسره دکتاب په لوستلوکي مرسته کړې وای . په اوسنیو پښتولیکنوکي دبېلابېلو لیکدودونوسته والی د اندېښني وړمسئله ده اوهرنوی لیکدود ددې ستونزې لمن ور پراخوي .په تېره بیاچي د
لهجوي ځانځانیوخبره هم په منځ کي وي . زه د (دی = He) او (دئ = Is) په لیکلو کي دډاکټرپالوال پرپله روان یم خوپه اوسني مروج لیکدودکي دواړه د (دی) په شکل لیکل کېږي اوپه ورته والي او التباس کي ئې له بیا بیا یادونوسره سره د معیاري غورځنګ لارویان
ری نه وهي . د (ولي؟) جواب ئې زه هم نه لرم .
ـــ دځینوهغودخیلولغاتوله پاره چي اوس ئې رواج موندلی دئ ، د نوولغاتوجوړول له ګډوډۍ اوانارشۍ پرته بله کومه نتیجه نه ورکوي . ګرامري اصطلاحات ښاغلي ډاکټرپالوال یورازاودوکتورزیاربل راز جوړکړي دي . ډاکټرپالوال خویوڅه دمیړي لارپرې ایښې ده اووایي په استعمال اونه استعمال کي ئې لیکوال اختیارلري . خودوکتور زیار پر خپلوجوړوسوولغاتوباندي مصالحې ته تیارنه دئ . زه پخپله له دخیلو عربي ګرامري اصطلاحاتوسره مخالف نه یم اوپه استعمال کي ئې هیڅ تاوان نه وینم . ګرامري اصطلاحات خوبې هغه هم دخواصوله پاره دي نه دعواموګړوله پاره. پرېږدئ چي دانومونه لکه ځیني تخنیکي نومونه، پخپله اصلي بڼه باندي پاته وي . زه دعربي لغاتومخالف نه یم خودهغوهڅومخه باید په ټینګه ونیوله سي چي غواړي دپښتو ګرامر دعربي ژبي دګرامرپر بنسټ تدوین کړي . دادوې جلاژبي دي اوجلاکورنیوپوري اړه لري . زموږ مشرانو استادانوکه پخواداکارکړی دئ ، خوپه هغه وخت کي دهغه وخت له شرایطوسره سم یوکارو . اوس ئې تکرارله ژبپوهني سره لوبي دي . خوله عربي لغاتوسره سیاسي چلند هم دژبي په ګټه کارنه دئ اوله دې تناقضه څخه بایدځان وباسوچي دعربي ژبي دخیل مذهبي کلمات او لغات ومنواو(قلم) ته بیاچي زموږ په ژبه کي داستعمال یونیم زرکلنه سابقه لري ، نوی لغت جوړکړو . داد وخت اوانرژۍ دواړو ضیاع ده . ګډوډي ئې لا بل سرباری دئ .
دډاکټرپالوال په کتاب کي زه د(ای) لغت په باب ، چي دی ئې د
(یعني) له پاره استعمالوي ، یوڅه ملاحظات لرم . دالغت که ماغلطي نه وي کړې د (هسي) ، (خوشي) ، (بېځایه) په معناباندي ماکندهار د رېګ د سیمي اودډوری دغاړي له کلیوالوڅخه اورېدلی دئ . (زما لالا! ای مه ګډېږه .) یعني خوشي اوبېځایه مه ږغېږه .
شمه (فشارپرورستی څپه دئ) چي ئې د(شومه) په شکل ګڼلې ده (٤٢٨مخ) هم ماته شناخته نه ښکاري . (دبدن شمه مي ختلې ده) یعني کمزوری سوی یم ، دبدن سېک مي ختلی دئ .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

لکه مخکې چې مې هم وویل ښايي ددوهم اودریم وارکتلووروسته د ویلو نوري خبري هم ولرم خواوس به ئې پر همدې ځاى بس کړم .

پالوال صاحب دخپلوڅېړنوپه پاى کې پښتنوته داسې خبرداری ورکوي :

" که پښتودغسې له ناخوالوڅخه ډکه پرېښوولې سي ، لکه په دې کتاب کښې چې تاسې تراوسه پورې لیدلې دې ، نولاس ځنې پرې مینځئ . داپه ښکاره سره مخ پرتباهۍ باندې روانه ده ، اووايي به : "مرګیه ، مه راځه ! درځمه !" . دغه تباهي ئې دونده دبل چاله خواڅخه نه کېږي لکه زموږ دخپلو ناپوهیو اوتعصباتو له خواڅخه چې ترسره کېږي .

قبیلوي تعصبات سته ؛ سیمه ئیزتعصبات سته ؛ ژبني تعصبات سته ، لهجوي تعصبات سته،اومذهبي لاهم .دهغوکسانومخنیوی باید وسي چې دبلې لهجې صحیح لغاتونه له استعماله اچوي، اوخپل مفغنات یاجعلیات ئې پرځای باندې ورکښې باسي . بشپړلغاتونه نه کاروي اوپرځای ئې ناقص اونیمګړي لغاتونه کاروي . که دغه عملیه هم دغسې دوام پیداکي ، لکه اوس چې په جریان کښې ده ، پښتوبه د یومحدودشمېرکسانوژبه وي . نوربه ځنې خواتوري سوي وي . په دغه صورت کښې نوپه نورو پسې مه ګرځئ چې پښتوئې زده کړې وي ،خپل راګرځوئ چې نوربه موږ خپل پښتانه بې پښتو سوي وي ، اوکېږي هم . پښتوبه ئې پرې ایښې وي ، پرې ایښې ئې هم ده ، اوپرېږدي ئې هم . ولې چې دنیمګړتیاو اونواقصو فهم اوتحمل به نه لري . بیابه هم په خپله ژبه شرمېږي یابه ئې ویلای لاهم نه سي . " (۱۷) .

داچیغي زه (هوتک) داخوکاله کېږي چې وهم ئې . زموږمشران استادان علامه حبیبي اوعلامه رشادله دغوارمانوسره ګورته ولاړل اوس دخدای سل شکرونه کاږم چې دادئ یوبل منلي استادترماپه سل چنده پوره صلاحیت اوپاخه منطق باندي دغه ستونزه دکتاب په بڼه خپلو پښتنوورونوته وړاندي کړه . پښتوژبه دټولوپښتنوده . ګټه او تاوان ئې هم ټولوته په ګډه رسېږي . داسې نه سي چې اوبه تروړخ را څخه واوړي اوبیابه لاس موښل څه ګټه هم ونه لري .

زه ښاغلي ډاکټرعبدالرازق پالوال ته ددغه درانه اثردلیکلوله امله مبارکي وایم او ټولو پښتنوورونوپه ټېره بیاځوانانوته ددغه کتاب د لوستلوسپارښتنه کوم اوورڅخه غواړم چې دغه کتاب په سړه سینه او بې له مخکیني ذهنیت اوقضاوت څخه ولولي ، پر وړغېږي اود منلو په صورت کي عمل په وکړي .

محمدمعصوم هوتک

اوکویل ـــ کاناډا

۲۷اګسټ ۲۰۰۶ع

لمنلیکونه

نقل قول دکتاب په لیکدودکټ مټ رانقل سوی دئ اوتردې وروسته به هم نورنقل قولونه د کتاب پخپل لیکدودوي .

(۱)په دې نامه کي د(نوني) لغت کارول ماته ډېرپه زړه پوري ښکاره سو . (نونی) دتوپک د میل پرسر د میل خولې ته نژدې هغه راوتلې زخه ده چې دنخښې ویشتلوپروخت کارځني اخیستل کېږي . دې زخي ته زماپه خیال کابلي ښکاریان جوک (دجیم او واوپه فتحه) وايي . په عسکري اصطلاح ئې هم لکه چې هم دانوم دئ . دګولیودتوپک دمیل پرمنځنی برخه یوه بله ټوټه هم سته چې (جرۍ) ئې بولي . له جرۍ اوجوک دواړوڅخه دنخښې برابرولو پر وخت کار اخیستل کېږي . په پښتوکي د(نینک) لغت (دسترګوکسی) هم له (نوني) سره ریښه یي اړېکی لري . ډاکټرپالوال دنوني کلمه د پاړسي (دیدګاه) له پاره راوړې ده اوپرځای ئې راوړې ده . دمعیاري ژبې له پاره له لهجوڅخه لغت اخیستنې ته باید ترلغت جوړوني وړاندي د لومړیتوب حق ورکول سي .خوله بده مرغه دې زرین اصل ته نن پښتانه لیکوال لږپاملرنه کوي .

(۲الف)وګ : دپوهانددوکتورمجاوراحمدزیارد(پښتواوپښتانه دژبپوهنې په رڼاکې) کتاب ته د پوهاندډاکترمحمدرحیم الهام سریزه ـــ دویم مخ ـــ د۱۳۷۹ کال چاپ .

(۲ب) زیار(دوکتور) ـــ مجاوراحمدـــ پښتوپښووبه ـــ ۱۱مخ (سریزه) ـــ دریم چاپ ـــ ۲۰۰۵ع .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

(۳) وګ : ښکلامجله ــ ٤کال ــ ۳ ګڼه ــ له پوهاندزیارصاحب سره مرکه ــ ٥٤ مخ ــ ۱۳۸٤ ل کال
(٤) پښتوڅېړني ــ دوهم ټوک ــ دوهمه برخه ـــ د پښتو، جاپاني قاموس په باب داکاډمیسن عبدالشکوررشادمقاله ــ ٤ مخ ـــ ۱۳٦۷ ش ــ کابل
(٥)پالوال ــ ډاکټرعبدالرازق ــ معیاري پښتو ــ ۱٦ ، ۱۷ مخونه ــ ۱۳۸٤ نمریزکال .
(٦) هماغه اثرــ ۲٤۰ مخ
(۷) هماغه اثرــ ۲۳۹مخ
(۸) هماغه اثرــ۸۹مخ
(۹) هماغه اثر ــ ۱٥۳مخ
(۱۰) هماغه اثرــ ۲۳۷ ، ۲۳۸مخونه
(۱۱) هماغه اثرــ۲٤۳مخ
(۱۲) هماغه اثرــ ۲۹۷مخ
(۱۳) هماغه اثرــ ۲۹۱ ــ ۳۱۰ مخونه
(۱٤) پښتوپښویه ــ ۳۸ مخ
(۱٥) اروابښادپوهاندرښتین په (ادبي اوتاریخي سموني) نومي کتاب ـ ۱۷ مخ کي درشاد مرحوم دغه کاربې فایدې بللی دئ . په دې باب زه خپل قضاوت لرم خودپښتوستوروپه دغه مقابله کي ئي زماله پاره بیانول ، بې ادبي ښکاري ځکه نوترتېرېږم .
(۱٦) وګ : سیال مومند ــ میراجان ــ نومیالی غازي (چکنورملاصاحب رحمه الله علیه) ــ ٦۷ مخ ــ ۱۳۷۷ ش ــ پېښور .
(۱۷) معیاري پښتو ــ ٤۰۸ مخ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ